# College Bound څه دی؟

**د لېسې دورې زده کوونکي:** College Bound د Washington College Grant په څېر د ایالتي مالي مرستې لومړنۍ ژمنه ده، چې د لېسې دورې څخه وروسته د زده کړې د لګښت په ورکولو کې له تاسو سره مرسته کوي. هغه مقدار پیسې چې زده کوونکي یې ترلاسه کوي د زده کړې د اوسط لګښت (د دولتي کالج په نرخ سره)، ځینو فیسونو او د کتابونو لپاره د کوچني مقدار پر اساس دي. تاسو کولی شئ چې له College Bound څخه په Washington کې په څه باندې 65 برخه اخیستونکو کالجونو، پوهنتونونو او تخنیکي ښوونځیو کې د خپلو زده کړو د لګښت ورکولو لپاره ګټه واخلئ.

## ژمنه څه ده؟

- که غواړئ له ښوونځي وروسته په مستقیم ډول په یوه څلور کلن کالج کې شامل شئ، د Washington له یو عالي ښوونځي یا د کورني ښوونځي له پروګرام څخه د 2.0 یا لوړې مجموعي GPA (Grade Point Average، د نمرو اوسط) په لرلو سره فارغ شئ.

  که غواړئ چې د ټولنې کالج یا تخنیکي لېسې ته ولاړ شئ، د عالي لېسې دورې د GPA کوم شرط نشته.

- د خپلې لېسې دورې په وروستي کال کې او د کالج یا روزنې پرمهال هر کال له FAFSA (Free Application for Federal Student Aid، د زده کوونکو د فدرالي مرستې لپاره وړیا غوښتنلیک) یا WASFA (Washington Apllication for State Financial Aid، د ایالتي مالي مرستې لپاره د Washington غوښتنلیک) سره د مالي مرستې غوښتنه وکړئ.
- هیڅ ډول جرمي محکومیت و نه لرئ.

## د 2023-24 د کورنۍ منځنۍ عاید

| د کورنۍ اندازه | کلنی عاید* |
|---|---|
| 1 | $38,000 |
| 2 | $49,500 |
| 3 | $61,500 |
| 4 | $73,000 |
| 5 | $84,500 |
| 6 | $96,500 |
| 7 | $98,500 |
| 8 | $100,500 |

* د کورنۍ عاید باید له دغه مقدار څخه کم یا ورسره مساوي وي.

## له فراغت وروسته، څنګه College Bound ترلاسه کولای شم؟

- د College Bound د ژمنې اړتیاوې او د ایالتي استوګنې اړتیاوې پوره کړئ.
- خپل د لیسې ډیپلوم ترلاسه کولو څخه وروسته په یو کال کې په کالج کې نوم لیکنه وکړئ.
- په خپل کالج کې په ښو درجو کې پاتې شئ.
- تر هغه چې په کالج کې یې هر کال مالي مرستې ته غوښتنلیک ورکړئ.
- د کورنۍ د منځني عاید په جدول کې د عاید اړتیاوې پوره کړئ. ستاسو کالج به وټاکي چې ایا تاسو د عاید اړتیاوې پوره کوئ او که نه.

## College Bound له ما څخه څه غواړي؟

- ډاډه شئ چې College Bound ستاسو د اړیکې اوسني معلومات لري.
- د خپلې لېسې له مشاور سره وګورئ څو ډاډه کړئ چې د اړیتاوو پوره کولو پر لاره یئ.
- په wsac.wa.gov/sfa-institutions پته د College Bound په وېب پاڼه کې د وړ ښوونځیو لسټ په کتلو سره د خپل کالج لټون لپاره چمتو شئ.

## مرستې ته اړتیا لرئ؟ Otter ته لیکلی پیغام واستوئ!



OtterBot د متني پیغام استولو خدمت دی چې د عالي لېسې له ټولو زده کوونکو او د هغوی له والدینو/سرپرستانو سره مرسته کوي. په College Bound کې د شاملو زده کوونکو لپاره ډیزاین شوی.

د نوم لیکنې لپاره دا QR کوډ سکن کړئ یا خپل د اړیکې معلومات تازه کړئ څو موږ وکولای شو له تاسو سره په اړیکه کې پاتې شو!
دا یوازې یوه دقیقه وخت نیسي!

College Bound یو ایالتي تمویل شوی پروګرام دی چې د Washington Student Achievement Council له خوا اداره کېږي.


**له موږ سره اړیکه ونیسئ**

collegebound.wa.gov

collegebound@wsac.wa.gov

(غوراوی 1) 888.535.0747



WASHINGTON STUDENT ACHIEVEMENT COUNCIL
EDUCATION · OPPORTUNITY · RESULTS